دو فصلنامهٔ
علمی-تحقیقی **عینک** علمي-څېړنیزه شپږ میاشتنۍ مجله
د امتیاز خاوند: لوگر د لوړو زده کړو مؤسسه/مؤسسهٔ تحصیلات عالی لوگر
تاریخ جواز مجله: ۱۴۴۴/۱۱/۱۴

# لوگر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې (افت تحصیلي) د اغېزناکو لاملونو څېړل

**پوهنمل محمد طاهر خپلواک[۱] او نوماند پوهنیار نجیب الله نجیب[۲]**
[۱،۲] د ارواپوهنې او روزنیزو علومو څانگه، د ښوونې او روزنې پوهنځی، لوگر د لوړو زده کړو مؤسسه، لوگر-افغانستان
tahirkhpalwak@gmail.com

## لنډیز

**موخه:** لوگر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې(افت تحصیلی) د اغېزناکو لاملونو څېړل تر سرلیک لاندې څېړنه، د موخې له نظره کارېدونکې او د مېتود له نظره توصیفی څېړنه ده.

**څېړندود:** د څېړنې جمعیت لوگر پوهنتون ټول محصلان دي، چې شمېر یې (۸۳۰) تنه دی. د نمونې حجم د (Sample Size Calculator) په مرسته د ۹۳ سلنه ډاډ او اووه سلنه خطاء په پام کې نیولو سره (۱۶۳) تنه غوره شوی چې ۱۲۹ هلکان او ۳۴ نجونې دي. د معلوماتو را ټولولو لپاره، له پوښتنپاڼې استفاده شوې، چې اعتبار یې د کرونباخ الفا پر بنسټ (۰,۸۹۳) ترلاسه شوی. معلومات د SPSS-26 پر اساس تحلیل او له (Repeated Measures Define Factor)، (Independent - Samples T Test) ټېستونو استفاده شوې.

**موندنې:** د څېړنې پایلې ښیي چې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې تر ټولو لوی عامل خپله محصلان او تر ټولو کوچنی عامل د پوهنځیو رهبري ده. په ترتیب، انفرادي عوامل، کورني عوامل، تحصیلي رشته، د تدریس مېتود، اقتصادي عوامل، د ښوونځو ضعف، ټولنیز عوامل، درسي محتوا، د ارزونې مېتود، سرچینې او اسانتیاوې، سیاسي عوامل او د پوهنځي رهبري د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې اغېز لري. د جنسیت له نظره، د هلکانو د فردي او ټولنیزو عواملو، تحصلي رشتې او درسي محتوا اوسطونه له نجونو څخه ډېر او معنیلرونکي او د نجونو سیاسي عواملو اوسط له هلکانو څخه ډېر او معنیلرونکي ترلاسه شوي. د پوهنځي له نظره، په ښوونه او روزنه کې د محصلانو تحصیلي لوېدنه لوړه، په جیولوجي او کانونو کې متوسطه او په کرنه کې ټیټه ده.

**کلیدي کلیمې**: تحصیلي لوېدنه، پر تحصیلي لوېدنې اغېزناک لاملونه، لوگر لوړو زده‌کړو مؤسسه او محصلان.

**استناد**: خپلواک، محمدطاهر او نجیب، نجیب‌الله.(۱۴۰۳). لوگر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې (افت تحصیلي) د اغېزناکو لاملونو څېړل. عینک علمي-څېړنیزه مجله، لومړی کال، دویمه گڼه: ۱۷۸-۱۹۸.
خپرندویه اداره: لوگر د لوړو زده کړو مؤسسه
© د لیکوال یا لیکوالان حق.

**سریزه**

د "لوېدنې یا افت" کلیمه په لغت کې د کمښت او نقصان معنی لري. د تحصیلي لوېدنې معنی د قناعت وړ کچې څخه نامطلوبې کچې ته د محصلانو-زده کوونکو په تحصیلي کړنو کې کمښت دی. د کارپوهانو په اند، په ښوونه او روزنه کې د لوېدنې اصطلاح کارول د اقتصاد پوهانو له ژبې څخه اخیستل شوې ده. هغوی زده کړه له یو داسې صنعت سره پرتله کوي چې د پانګې او خامو موادو چې باید په نهایي محصول بدل شي، له منځه ځي او مطلوب او متوقع پایله لاسته نه راوړي. د تحصیلي لوېدنې لپاره ګڼ تعریفونه ورکړل شوي، د دوی ټولو مشترکه ځانګړتیا د رسمي زده کړو په بریالیتوب سره بشپړولو کې ناکامي ده. د یونسکو سازمان، د تحصیلي لوېدنې مفهوم د سمستر بیاځلي (تکرار)، له وخته مخکې د زده کړو پرېښودل او د محصلانو ټیټ ښوونیز کیفیت په ګوته کوي(ابراهیم‌زاده او همکاران، ۱۳۹۴).

د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو او په تېره بیا د درېیمې نړۍ هېوادونو د تحصیلي نظام یو له سترو بحرانونو څخه د " تحصیلي لوېدنې" مسئله ده او نن سبا د پوهنې له مهمو مسایلو څخه ګڼل کېږي. ډېری ښوونکي، ټولنپوهان، ارواپوهان، او نور. . . دوی دې مسئلې ته د خپل نظر له مخې کتلي او بېلابېل تعریفونه یې کړي دي. د تحصیلي لوېدنې معنی دا ده چې خلک د ښوونیزو اسانتیاوو د کارولو فرصت ومومي؛ خو د ځینو دلایلو له امله، دوی له زده کړې څخه ایستل کېږي، له وخته مخکې د زده کړو پرېښودل، یا والدین د دوی د زده کړو له دوام څخه مختیوي کوي.

د لوېدنې کلیمه د عمید په فرهنګ کې د کمښت او لوېدنې په معنی سره راغلې ده او د معین په فرهنګ کې د ( لوېدنې-افت) کلیمه د ټیټوالي او کموالي په معنی ده. له تحصیلي لوېدنې څخه موخه د محصلانو تحصیلي کړنې د قناعت وړ کچې څخه نامطلوبې کچې ته د را ټیټېدلو په معنی ده. دې تعریف ته په کتو ښيي چې دمحصلانو د تېرو تحصیلي کړنو کچه له اوسنیو کړنو سره پرتله او اندازه کول د تحصیلي لوېدنې غوره ځانګړنه ده. په معمولي ډول، د تحصیلي ماتې یا لوېدنې د بیانولو لپاره، د تحصیلي لوېدنې یا تحصیلي ټیټوالي کلیمه کارول کېږي. د امین فر په اند، په ښوونه او روزنه کې د لوېدنې اصطلاح کارول د اقتصاد پوهانو له ژبې څخه اخیستل شوې ده. او هغوی زده کړه له یو داسې صنعت سره پرتله کوي چې د پانګې او خامو مواد چې باید په نهایي محصول بدل شي، له منځه ځي، چې مطلوب او متوقع پایله لاسته نه راوړي (افشار، ۱۳۹۵). لوېدنه مختلف ډولونه لري، چې په ټوله په دوه ډوله ده. کمې لوېدنه او کیفي لوېدنه.

کمي لوېدنه: د محصلانوـ زده کوونکو هغه سلنه چې نشي کولی ښوونیزه - تحصیلي دوره د نه بریالي کېدو او د زده کړې د پرېښودو له امله په بریالیتوب سره بشپړه کړي. کیفي لوېدنه: ټاکل شویو موخو ته په رسېدو او یا هم د دغو موخو په لاسته راوړلو کې ناکامي ده. پر همدې بنسټ، د یوې تحصیلي دورې د فارغانو د پوهې او مهارتونو ترمنځ توپیر او د دې دورې لپاره ټاکل شویو موخو د

کیفیت کمښت ښيي(افشاری، ۱۳۹۴). تحصیلي لوېدنه: د یو هیواد په تحصیلي سیستم کې له وخته مخکې د زده‌کړو پرېښودل او یا هم د لومړنیو زده‌کړو بیا ځلي تکرار له تحصیلي لوېدنې څخه عبارت دی(معصومی، ۱۳۸٦).

د هېواد په ښوونیز- تحصیلي نظام کې یوه جدي ستونزه د تحصیلي لوېدنې پدیده ده، چې معمولاً په ډېرو پوهنتونونو کې لیدل کېږي او یاده شوې ستونزه د ډېرو اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، ارواییي او حتی بشري سرچینو له لاسه ورکولو لامل کېږي. هغه ښوونیز نظامونه چې د تحصیلي لوېدنې له ستونزې سره مخ دي ښوونیزې موخې نشي ترلاسه کولی. محصلان هم د تحصیلي کړنو په پرمختګ کې ناهیلي، مایوسه او پر خپل استعداد شک کوي. پردې سربېره، ډېری محصلان زده کړې پرېږدي، تعجیل اخلي او ځینې محصلان په تحصیلي کړنو او آزموینو کې مطلوبې پایلې نه ترلاسه کوي، حتی ځینې دویم او درېیم چانس ته ځي. استادان هم له یادې ستونزې ځورېږي. د تجربو- معلوماتو له مخې، لوګر د لوړو زده کړو په مؤسسه کې د محصلانو تحصیلي کړنې د قناعت وړ نه دي. همدارنګه، یو شمېر محصلان په بېلابېلو تخصصي، مسلکي او پوهنتون شموله مضامینو کې ښې او د قناعت وړ نمرې نه اخلي، دویم او درېیم چانس ته ځي، بیاځلي سمستر تکراروي او حتی ځېنې یې تحصیل پرېږدي، چې دا پدیده لوګر د لوړو زده کړو په مؤسسه کې ډېره لویه ستونزه ده. د دې ستونزې دوام د خلکو او ټولنې لویه اندازه مالي سرچینې او استعدادونه له منځه وړي او ناوړه اغېز کوي.

د تحصیلي لوېدنې په اړه بېلابېل تعبیرونه او تعریفونه وړاندې شوي، چې د ټولو ګډه ځانګړنه د رسمي زده کړو په مخته وړلو کې د بریالیتوب نشتوالی او ناکامي ده. په اصل کې، ځینې په دې باور دي چې "د تحصیلي لوېدنې اصطلاح یا په ښوونه او روزنه کې لوېدنه د اقتصاد پوهانو له ژبې څخه اخیستل شوې. په تحصیلي لوېدنه کې د تحصیلي ناکامۍ مختلف اړخونه شامل دي، لکه په ښوونځي - پوهنتون کې په پرله پسې ډول غیر حاضري، له ټاکل شوي وخت څخه د زده کړو په مکرر ډول پرېښودل، د لومړنیو زده‌کړو بیاځلي تکرار ، د زده کړې ټیټ کیفیت، او د معلوماتو پر ځای د محفوظاتو ترلاسه کول(تمنایی‌فر او همکاران، ۱۳۸٦). د تحصیلي لوېدنې د لاملونو په اړه ګڼ شمېر څېړنې تر سره شوې دي، چې د ځینو څېړنو موندنې په لاندې ډول دي:

پارسي او همکارانو (۲۰۱۷) یې د مازندران د طبي علومو پوهنتون د بېلابېلو مقاطعو پر محصلانو د تحصیلي لوېدنې کچې او اغېزناکو لاملونو تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړې او لاندې پایلې یې ترلاسه کړې: تر ټولو لوړه تحصیلي لوېدنه د لیسانس او تر ټولو لږ تحصیلي لوېدنه د ماسټرۍ او دوکتورا په مقاطعو کې تر لاسه شوه. له تحصیلي لوېدنې سره د جنسیت او عمر تر منځ د پام وړ توپیر ښودل شوی. په منځني ډول تحصیلي لوېدنه په ټولو کچو کې د نجونو په پرتله په هلکانو کې لوړ وه ($0/05 > p$). په تحصیلي لوېدنې د بېلابېلو لاملونو اغېز لکه د شهادت‌نامې ترلاسه کولو او پوهنتون ته د ننوتلو ترمنځ وخت وقفه ، واده او تحصیلي رشتې د پام وړ وې، پداسې حال کې چې د والدینو د

زده‌کړو کچه، ښوونېزې اسانتیاوې، د ماشومانو شمېر، د ځانګړي ناروغۍ مخېنه، دنده او اقتصادي شرایطو متغییرونو ترمنځ د پام وړ اړیکې تر لاسه نه دي ترلاسه شوې(پارسي او همکاران، ۱۳۹۷). تمنايي‌فر او د هغه همکارانو (۱۳۸٦) د هغو لاملونو د پرتله کولو په اړه څېړنه ترسره کړې چې د مشروط او ممتاز محصلانو پر تحصیلي لوېدنه اغېزه کوي، او د څېړنې پایلو یې ښودلې چې ممتاز محصلان د مشروط محصلانو په پرتله لوړ هوښ(IQ) لري، او په هغوي کې خپل ځان ته درناوی پیاوړی دی او دوی ښه تحصیلي شالید لري. همدارنګه، دا معلومه شوې چې ډېری محصلان چې د تحصیلي لوېدنې سره مخ دي (۸/۸۸ سلنه) غیر محصلي او ډېری غوره(ممتاز) محصلان (۸/۵۳ سلنه) بومي دي(تمنايي‌فر او همکاران، ۱۳۸٦). ابراهیم نعیمي (۱۳۹٦) په خپلو څېړنو کې ښودلې چې د مجازي ټولنیزو شبکو کارولو او د شخصي ارزښت د احساس تر منځ منفي او د پام وړ اړیکه شتون لري او د مجازي ټولنیزو شبکو د کارولو او تحصیلي لوېدنې تر منځ منفي اړیکه شتون لري ( ۰۵ / 0 > p ). همدارنګه، د شخصي ارزښت احساس او د مجازي ټولنیزو شبکو کارولو مقدار د دې توان درلود چې په زده کونکو کې د تحصیلي لوېدنې وړاندوینه وکړي (نعیمي، ۱۳۹٦). فرزاد ابراهیم زاده او همکارانو(۱۳۹۴) یې د لارستان د طبي علومو په پوهنتون کې د تحصیلي لوېدنې او د هغې پورې اړوند لاملونو تر سرلیک لاندې څېړنه ترسره کړه او ویې موندل چې هغه لاملونه لکه پوهنځی، د زده‌کړو ځای، د زده‌کړې کچه، د زده کړې د پخوانیو او اوسنیو کچو ترمنځ واټن، جنسیت او د اوسیدو ځای د تحصیلي لوېدنې سره تړاو لري (ابراهیم زاده او همکاران، ۱۳۹۴).

غیبي او همکارانو (۱۳۸۹) په خپلو څېړنو کې دې پایلې ته رسیدلي چې بنسټیز لاملونه لکه ټولګي ته نه حاضریدل، د شهادت‌نامې ترلاسه کولو او پوهنتون ته د داخلیدو تر منځ اوږده واټن (د ښوونځي پریښودل او پوهنتون ته داخلیدل) له تحصیلي لوېدنې سره معنا لرونکي اړیکه لري (غیبي او همکاران، ۱۳۸۹). حسام او ثناګو (۱۳۹۱) په یوه څېړنه کې چې د تحصیلي لوېدنې او د محصلانو تحصیلي رضایت ترمنځ اړیکه او ځینو لاملونو په نظر کې نیولو سره د ګلستان د طبي علومو پوهنځی ترسره شوي، په ډاګه کړه چې د محصلانو د تحصیلي رضایت کچې متغییر د پلار له مسلک، د کورنۍ ملاتړ، له مشورې او لارښود استاد سره د پام وړ معنا لرونکي آماري اړیکه ولیدل شوه (حسام و ثناګو، ۱۳۹۱). بندبني او د هغه همکارانو په (۱۳۹۵) کال کې د ګیلان ښار د طبي علومو پوهنتون د محصلانو له نظره د تحصیلي لوېدنې د مطالعې تر سرلیك لاندې یوه څېړنه ترسره کړه او په دې اړه یې ځینې لاملونه وڅېړل او دې پایلې ته ورسیدل، چې د تحصیلي لوېدنې اړوند فردي ټولنیز لاملونه په کې شامل دي، لکه د محصلانو جنسیت ، تحصیلي مقطع، د مور د زده‌کړو کچه، د پلار دنده، د محصلانو د کار وضعیت او د تحصیلي رشتې غوره کولو څرنګوالی د دوو ډلو محصلانو ترمنځ( هغه محصلان چې تحصیلي لوېدنه لري او هغه محصلان چې تحصیلي لوېدنه نه لري) د تحصیلي لوېدنې د پام وړ توپیر ښودلی(۰۵/ ۰ >p ) (بندبنی او همکاران، ۱۳۹۵). مقیمي او د هغه همکارانو (۱۳۸۹) په یوه څېړنه کې چې د ثانوي ښوونځیو د نارینه زده کونکو ترمنځ د ښوونېزو لاملونو او تحصیلي لوېدنې تر منځ د اړیکو

مطالعه کول ، ښودلې چې د زده کړې لاملونه او د زده کونکو تحصیلي لوېدنې، او همدارنګه د هڅونې او مجازات، فردي توپیرونو ته لږه پاملرنه او نامناسب تحصیلي چاپیریال د تحصیلي لوېدنې سره د پام وړ اړیکه شتون لري (مقیمی او همکاران، ۱۴۸۹).

فردي لاملونه (هوښ، انګیزه او ځان ته درناوی)، ښوونېز لاملونه (د استاد او محصل اړیکې، مناسب تحصیلي شرایط او اسانتیاوې، هڅونه او مجازات، د زده‌کونکو انفرادي توپیرونو ته لږه پاملرنه) او کورنۍ‌لاملونه ( د کورنۍ عاطفي شرایط، ټولنیز او اقتصادي شرایط، په کورنۍ کې د زده کړې او سواد کچه ، د کورنۍ د غړو شمېر ، د زده کونکو ګمارنه ، د والدینو او ښوونکو ترمنځ اړیکه ، د ډله ایزو اړیکو وسائلو، حکومتدارۍ او مادي ارزښتونو اغیزې) (مقیمی او همکاران، ۱۴۸۹). کمالي او رضایي (۱۳۹۸) د بندر عباس په طب پوهنځي د محصلانو تحصیلي لوېدنه د ټولنې د روغتیا په راتلونکي کې د اغېزمن لامل په توګه  تر سرلیك لاندې یوه څېړنه ترسره کړه او پایلې یې وښوده چې د اوسېدو د حالت، د مور او پلار د زده‌کړو او تحصیلي لوېدنې ترمنځ اړیکه شتون لري(P- ۰/۰۰۵ ≤Value)(کمالي او رضایي، ۱۳۹۸). محمدي او همکارانو (۱۳۹۹) د سمنان د طبي علومو پوهنتون د روغتیایي رشتي محصلانو د تحصیلي لوېدنې په اړه څېړنه ترسره کړې او پایلې یې ښیې چې تحصیلي لوېدنه له تأهل وضعیت، سمستر او تحصیلي کچې، د استوګنې ځای څخه تر پوهنتون پورې واټن، دتحصیلي رشتې غوره کول، په ټولګیو کې فزیکي شتون او د محصلانو دقت او تمرکز ترمنځ د پام وړ اړیکه لیدل شوې ده (محمدي او همکاران، ۱۳۹۹). راستیان او همکارانو (۱۳۹۳) کې د تحصیلي لوېدنې سره د مقابلې لپاره ستراتیژۍ؛ تر سرلیك لاندې کتابتوني څېړنه ترسره کړې او وایي چې څېړنې پایلې ښیي چې تحصیلي لوېدنه بېلابېل لاملونه لري چې په څلورو کټګوریو ویشل کېدی شي، انفرادي لاملونه ( د هڅونې نشتوالی، په ځان د باور کموالی، د پلان نشتوالی) کورنۍ لاملونه (د والدینو ترمنځ غیر معمولي اړیکه، مادي او کلتوري فقر)، ټولنیز لاملونه ( روږدیتوب، د مصرف تجمل ګرایی خپریدل) او ښوونېز لاملونه (د ښوونکي د تدریس مېتود، د درسي کتاب منځپانګې او د ارزونې مېتود) (راستیان او همکاران، ۱۳۹۳). فتی او همکارانو (۱۳۹۲) د طب محصلانو د تحصیلي لوېدنې د لاملونو سیستماتیکي بیاکتنې تر سرلیك لاندې څېړنه ترسره کړې او وایي چې د منځپانګې تحلیل، جنسیت، په لیلیه کې ژوند، په کار ګمارل، واده، عمر، د منلو(سهمیي) کچه،  له ښوونځي څخه د فراغت او پوهنتون ته د ننوتلو تر منځ اوږد واټن د طب محصلانو په تحصیلي لوېدنې باندې اغیزمن لاملونه ګڼل کېږي (فتي او همکاران، ۱۳۹۳). پردانجاني او همکارانو (۱۳۹۰) د ګلستان د طبي علومو پوهنتون د پارامیډیکل او روغتیا پوهنځیو په لیلیه کې د محصلانو د تحصیلي لوېدنې فریکونسۍ او اغیزمن لاملونه وڅېړل او دې نتیجې ته ورسید چې د تحصیلي لوېدنې، د مور او پلار د زده‌کړو کچې، اقتصادي وضعیت او د محصلانو د سګرټ څکولو تر منځ د پام وړ اړیکه شتون لري. همدارنګه ، د هغو لاملونو په منځ کې چې پر تحصیلي پرمختګ، په درسي ټولګي کې دقت او تمرکز او په کانکور آزموینه کې

د منل کیدو سیمه له تحصیلي لوېدنې سره د پام وړ اړیکه و موندل شوه (پر دنجانی و همکاران، ۱۳۹۰).

مقدم او کمالی‌فر (۱۳۹۱) د لومړۍ کیمیا په درس کې د آمول ښار د نارینه زده‌کونکو د تحصیلي لوېدنې د مهمو لاملونو پیژندلو په اړه څېړنه کې، د پایلو له مخې اقتصادي وضعیت، والدینو د سواد کچه، ښوونکي د تدریس مېتود، د ازمویني پوښتنې، تحصیلي مخېنه او په راتلونکي کې د کار اړتیاوې د تحصیلي لوېدنې د مهمو لاملونو په توګه پیژندل شوي (مقدم و کمالی فر، ۱۳۹۱). سیمي (۱۳۹۴) د اروایي روغتیا او د لومړنیو ښوونځیو د زده کونکو د تحصیلي لوېدنې تر منځ د اړیکو په اړه څېړنه ترسره کړې او پایلې یې په ۱۳۹۴ کې د ترکیې په استانبول ښار کې د ساینس او ټیکنالوژۍ په اړه دویم نړیوال کنفرانس ته وړاندې کړې. پایلې ښیي چې د تحصیلي لوېدنې او اروایي روغتیا ترمنځ منفي او د پام وړ اړیکه شتون لري (سیمائی، ۱۳۹۴). افشاري (۱۳۹۵) د تحصیلي لوېدنې لاملونه او د زده کونکو په تحصیلي پرمختګ کې د والدینو د سواد کچې اغیزې په اړه څېړنه کې ، دې پایلې ته رسیدلي چې د والدینو د زده‌کړو کچه د ماشومانو په تحصیلي پرمختګ کې مستقیم رول لري (افشاری، ۱۳۹۵). شکرکن او همکارانو (۱۳۹۷) د ایران په اهواز ښار کې د هلکانو په لیسو کې د تحصیلي لوېدنې د مهمو لاملونو څېړنه ترسره کړه او د تحصیلي لوېدنې خورا مهم لامل یې په لاندې ډول په ګوته کړل: د تحصیلي پلان جوړونې اړوند مسائل، کورنۍ او روغتیا ستونزې، چاپیریالي ستونزې، د ټولنیز چلند مسائل، د ودې پورې اړوند مسائل، د ازموینې ، د درسي کتابونو ، ښوونېزو ، عمومي مسئلې او کورنۍ اختلافات (شکرکن و همکاران، ۱۳۹۷).

په پوهنتون کې د محصلانو تحصیلي دوره له څو اړخونو څخه ډېر اهمیت لري. له اقتصادي اړخه، په پام کې نیولو سره چې په افغانستان کې لوړې زده کړې د ملي عوایدو پر بنسټ ولاړې دي او د زده کړو لګښت کولی شي پر دولت او ټولنې لوی اقتصادي بوج راولي. له ټولنیز اړخ، د محصلانو لوېدلي تحصیلي کړنې کولی شي د بې اغېز او بې کفایته متخصص کادرونو تولید او په پای کې د ټیټ کیفیت خدمتونه او د خلکو لپاره د هوساینې نشتوالي لامل شي. له فردي نظره، د تحصیلي لوېدنې پدیده به د محصلانو لپاره اقتصادي ستونزې، د شاوخوا چاپېریال سره نامناسبې اړیکې او په ټولنه کې په ځان د نه باور درلودو او عزت کمېدو په څېر ستونزې رامنځته کړي. معلومه خبره ده چې د تحصیلي لوېدنې پدیده د مالي سرچینو د ضایع کېدو سربېره، د دې لامل کېږي چې یو څوک وروسته د کار بازار ته ننوځي، مایوسه کېږي او خپل مورال له لاسه ورکوي او خپله محصلانو، د هغوی کورنۍ، ټولنې او هېواد ته ډېر زیان رسوي. دا کولی شي د منفي ټولنیزو کړنو لکه د ښوونځي یا کورنۍ پرېښودل، پر مخدره توکو او الکولو روږدیتوب، خپګان او ځان وژنې لامل شي. د تحصیلي لوېدنې پدیدې زموږ د هیواد تحصیلي نظام له ډېرې مودې راهیسې ځپلی دی او د تحصیلي لوېدنې په پایله کې د ډېرو اقتصادي، شخصي، ټولنیزو او کلتوري زیانونو د کمولو لپاره په هیواد کې د تحصیلي لوېدنې په برخه

کې پراخو څېړنو ته اړتیا ده. د تحصیلي لوېدنې د لاملونو په اړه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې ډېرې څېړنې تر سره شوي دي او د ګوتو په شمېر څېړنې په افغانستان کې تر سره شوي دي؛ خو دا ډول ستونزې له یوې ټولنې څخه بلې ته او له یوه کلتور څخه بل ته توپیر لري. نو پکار ده چې یاده موضوع په هره ټولنه او خپل ځای کې وڅېړل شي. یادې شوې ستونزې ته په کتو، په ۱۴۰۱ کال کې لوګر د لوړو زده کړو په مؤسسه کې د محصلانو له نظره د تحصیلي لوېدنې د لاملونو د پېژندلو په موخه یاده څېړنه ترسره شوه، تر څو د تحصیلي لوېدنې لاملونو په پېژندلو سره د تحصیلي لوېدنې له امله رامنځ ته شوي زیانونه راکم او د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو فعالیت ښه شي. د یادې څېړنې موخې او پوښتنې په لاندې ډل دي:

### د څېړنې موخې

**اصلي موخه:** لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو د تحصیلي لوېدنې د لاملونو څېړنه.

**فرعي موخې:**

1. د هغو لاملونو د لومړیتوبونو طبقه بندي کول چې لوګر د لوړو زده کړو موسسې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنه اغېز لري.
2. د محصلانو جنسیت ته په کتو د هغو لاملونو پرتله کول چې لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنه اغېز لري.
3. د تأهل له نظره د هغو لاملونو پرتله کول چې لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنه اغېز لري.

### د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښتنه:** لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو د تحصیلي لوېدنې لاملونو کوم دي؟

**فرعي پوښتنې:**

۱. کوم لاملونه لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنه ډېر اغېز لري؟
۲. د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې اغېزناک لاملونه د جنسیت پر بنسټ معنا دار او توپیر لرونکي دي؟
۳. د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې اغېزناک لاملونه د تأهل پر بنسټ معنادار او توپیر لرونکي دي؟

### د څېړنې مېتود

د غه څېړنه د موخې له نظره یوه کارېدونکې او د مېتود له نظره توصیفي څېړنه ده. ټولنې جمعیت د لوګر پوهنتون محصلان دي چې شمېر یې (۸۳۰) تنه دی. د نمونې حجم د (Sample Size Calculator) په مرسته د ۹۳ سلنه ډاډ او اووه سلنه خطاء په پام کې نیولو سره (۱٦۳) تنه غوره شوی

چې ۱۲۹ هلکان او ۳۴ نجونې دي او د پوښتنپاڼې وېش په ساده تصادفي ډول ترسره شوی. د معلوماتو راټولولو لپاره، د ٦٨ سؤاله پوښتنپاڼې څخه په فېزيکي او آنلاين ډول استفاده شوې. معلومات د SPSS-26 پر اساس تحليل او له (Repeated Measures Define Factor)، (Independent - Samples T Test) ټېسټونو استفاده شوې.د پوښتنپاڼې اعتبار د کرونباخ الفا مېتود پر بنسټ (۰,۸۹۳) ترلاسه شوی. دغه پوښتنپاڼه ٦٨ پوښتنې او ۱۲ فکتورونه (مؤلفې) لري او د پوښتنو ځوابونو لپاره د پنځه انتخابي ليکرټ طيف کارول شوی. د ځوابونو د نمرو ورکړه له يو څخه تر پنځو (له بشپړ موافق تر بشپړ مخالف) پورې درجه بندي شوې چې په لاندې ډول دي: په بشپړ ډول موافق يم (۵)، موافق يم (۴)، هېڅ نظر نه لرم (۳)، مخالف يم (۲)، او په بشپړ ډول مخالف يم (۱). په دې پوښتنپاڼه کې، (۱-۱۱) پوښتنې په انفرادي لاملونو پورې اړه لري، (۱۲-۱۵) پوښتنې د ارزونې مېتودونو پورې اړه لري، (۱٦-۱۹) پوښتنې د درسي منځپانګې پورې اړه لري، (۲۰-۲۸) پوښتنې په کورني لاملونو پورې اړه لري، (۲۹-۳۳) پوښتنې په کلتوري-ټولنيزو عواملو پورې اړه لري، (۳۴-۳٦) پوښتنې په سياسي لاملونو پورې اړه لري، (۳۷-۴۲) پوښتنې په اقتصادي لاملونو پورې اړه لري، له (۴۳-۴۷) پوښتنې د ښوونځيو په کمزوتيا پورې اړه لري، له (۴۸-۵۱) پوښتنې د سرچينو او اسانتياو پورې اړه لري، له (۵۲-۵۸) پوښتنې په تدريس مېتود پورې اړه لري، له (۵۹-٦۵) پوښتنې په تحصيلي رشته پوري اړه لري، او له (٦٦-٦٨) پوښتنې د پوهنځي مشرتابه پورې اړه لري

## د څېړنې موندنې

په دې ځای لومړی توصيفي تحليل په ځانګړي ډول د ګډونوالو دېموګرافي ځانګړنو موندنې او وروسته بيا استنباطي تحليل راوړی شوی دی.

لومړی جدول: په څېړنه کې د جنسيت پر اساس د ګډونوالو شمېر

| | ښځينه | نارينه | ټولټال |
|---|---|---|---|
| **شمېره** | ۳۴ | ۱۲۹ | ۱٦۳ |
| **سلنه** | ۲۰,۹٪ | ۷۹,۱٪ | ۱۰۰,۰٪ |

پورتنی (۱) شمېره جدول ښيي، چې په څېړنه کې ټول (۱٦۳) کسانو ګډون کړی، چې (۱۲۹) تنه (۷۹,۱٪) يې نارينه او (۳۴) تنه (۲۰,۹٪) يې ښځينه دي.

دويم جدول: په څېړنه کې د تأهل پر اساس د ګډونوالو شمېر

| | ښځينه | نارينه | ټولټال |
|---|---|---|---|
| **شمېره** | ۵۸ | ۱۰۵ | ۱٦۳ |
| **سلنه** | ۳۵,٦٪ | ٦۴,۴٪ | ۱۰۰,۰٪ |

پورتنی (۲) شمېره جدول ښيي، چې په څېړنه کې ټول (۱٦۳) کسانو ګډون کړی، چې (۱۰۵) تنه (٦۴,۴٪) يې مجرد او (۵۸) تنه (۳۵,٦٪) يې متأهل دي.

درېيم جدول: په څېړنه کې د چانس پر اساس د ګډونوالو شمېر

| | هو | نخير | ټولټال |
|---|---|---|---|
| شمېره | ۷۵ | ۸۸ | ۱٦۳ |
| سلنه | ۴٦,۰٪ | ۵۴,۰٪ | ۱۰۰,۰٪ |

پورتنی (۳) شمېره جدول ښيي، چې په څېړنه کې ټول (۱٦۳) کسانو ګډون کړی، چې (۷۵) تنه (۴٦,۰٪) په تحصيلي دوره کې له يو ځل تر پينځو ځلو چانسونه خوړلی او (۸۸) تنه (۵۴,۰٪) چانس نه دی خوړلی.

څلورم جدول: په څېړنه کې د پوهنځي پر اساس د ګډونوالو شمېر

| | ښوونه او روزنه | کرنه | جيولوجي او کانونه | ټولټال |
|---|---|---|---|---|
| شمېره | ۹۳ | ۵۵ | ۱۵ | ۱٦۳ |
| سلنه | ۵۷,۱٪ | ۳۳,۷٪ | ۹,۲٪ | ۱۰۰,۰٪ |

پورتنی (۴) شمېره جدول ښيي، چې په څېړنه کې ټول (۱٦۳) کسانو ګډون کړی، چې (۹۳) تنه (۵۷,۱٪) په ښوونه او روزنه پوهنځي کې، (۵۵) تنه (۳۳,۷٪) په کرنه پوهنځي کې او (۱۵) تنه (۹,۲٪) په جيولوجي او کانونو پوهنځی کې محصلان دي. د يادولو ده چې د شرعياتو پوهنځي په دې وخت محصلان نه درلودل او تازه ورته اول سمېستر ته محصلان معرفي شوي وو، په همدې خاطر په څېړنه کې نه دي شامل شوي.

**د څېړنې لومړۍ پوښتنه:** کوم لاملونه لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د محصلانو پر تحصيلي لوېدنه ډېر اغېز لري؟

د محصلانو پر تحصيلي افت د مؤثر عواملو اولويت بندي معلومولو لپاره له مکررو اندازو تحليل واريانس (Repeated Measures Define Factor) ټېسټ ګټه اخيستل شوې ده،؛ پايلې يې په (۵) جدول کې ښودل شوې.

پينځم جدول: د محصلانو پر تحصيلي غورځېدنې د آغېزمنو لاملونو لومړيتوب بندي

| متغيير | شمېر | اوسط | ســتينډرډ انحراف | F | P-value |
|---|---|---|---|---|---|
| فردي‌عوامل | ۱٦۳ | ۳٦,۳۰۰٦ | ٦.٦٦۹۵۷ | ٦۸۰,۱۰۸ | ۰.۰۰۰۱ |
| استاد ارزونې مېتود | ۱٦۳ | ۱۳.۰۰۰۰ | ۳.۸۴۹۰۰ | | |
| ددرسي محتوا | ۱٦۳ | ۱۳.۱۷۱۸ | ۲.۸۸۸۰۲ | | |
| کورني‌عوامل | ۱٦۳ | ۲۷.۷۹۱۴ | ۷.۰۳۹۹۷ | | |
| ټولنيزفرهنګي‌عوامل | ۱٦۳ | ۱۵.۰۹۸۲ | ۳.۴۹۴٦۴ | | |
| سياسي عوامل | ۱٦۳ | ۱۱.۱٦۵٦ | ۳.۱۹۷۷۳ | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| اقتصادي عوامل | ۱۶۳ | ۱۹.۶۸۷۱ | ۴.۱۳۲۸۶ |
| ښوونځي ضعف | ۱۶۳ | ۱۷.۶۹۳۳ | ۳.۴۰۹۰۱ |
| منابع او امکانات | ۱۶۳ | ۱۲.۶۳۸۰ | ۳.۳۴۰۴۰ |
| استاد تدرس مېتود | ۱۶۳ | ۲۱.۷۴۸۵ | ۴.۸۲۸۳۴ |
| تحصیلي رشته | ۱۶۳ | ۲۱.۷۴۸۵ | ۵.۱۵۲۴۲ |
| پوهنځي رهبري | ۱۶۳ | ۹.۱۹۰۲ | ۳.۱۴۳۷۸ |

په پورتني(۵) شمېره جدول کې د تحلیل واریانس پایلې ښیي، چې د فردي عواملو اوسط 36.3006 له 6.66957 معیاري انحراف سره، د استاد ارزوني میتود اوسط 13.0000 له 3.84900 معیاري انحراف سره، د درسي محتوا اوسط 13.1718 له 2.88802 معیاري انحراف سره، د کورنیو عواملو اوسط 27.7914 له 7.03997 معیاري انحراف سره، د ټولنیزو او فرهنګي عواملو اوسط 15.0982 له 3.49464 معیاري انحراف سره، د سیاسي عواملو اوسط 11.1656 له 3.19773 معیاري انحراف سره، د اقتصادي عواملو اوسط 19.6871 له 4.13286 معیاري انحراف سره، د ښوونځي ضعف اوسط 17.6933 له 3.40901 معیاري انحراف سره، د منابعو او امکاناتو اوسط 12.6380 له 3.34040 معیاري انحراف سره، د تدرس مېتود اوسط 21.7485 له 4.82834 سره، د تحصیلي رشتې اوسط 21.7485 له 5.15242 معیاري انحراف سره، او د پوهنځي رهبري اوسط 9.1902 له 3.14378 معیاري انحراف سره دی. پورته تحلیل ښیي چې تر ټولو لوړ اوسط د محصلانو په فردي عواملو(36.3006) او تر ټولو ټیټ اوسط د پوهنځي رهبري(9.1902) پورې مربوط دی او د تحصیلي افت عواملو ترمنځ معنی لرونکی توپیر موجود دی. پورته اوسطونو ته په کتو د محصلانو پر تحصیلي افت په ترتیب لاندې موارد اغېز لري: لومړی خپله د محصلان فردي عوامل؛ دویم، کورني عوامل؛ درېیم، تحصیلي رشته؛ څلورم، استادانو تدریس مېتود؛ پینځم، اقتصادی عوامل؛ شپږم؛ ښوونځیو ضعف، اووم، ټولنیز-فرهنګي عوامل؛ اتم، درسي محتوا؛ نهم، د استاد د ارزونې مېتود؛ لسم، منابع او امکانات؛ یوولسم، سیاسي عوامل؛ دوولسم، د پوهنځیو رهبري. د ټولو عواملو اوسطونه له معیاري انحرافونو سره د تی په کچه معنی‌دار دي. د یادولو ده چې ترټول ډېر د محصلانو فردي عوامل او ترټولو لږ د پوهځي رهبري د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري.

**دویمه پوښتنه:** د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې اغېزناک لاملونه د جنسیت پر بنسټ معنا دار او توپیر لرونکي دي؟

د جنسیت پر اساس د محصلانو پر تحصیلي افت د مؤثرو عواملو پېژندلو لپاره له خپلواک تي ټېسټ (Independent - Samples T Test) څخه ګټه اخیستل شوې، ترڅو د جنسبت له مخې د هغوی اوسطونه او د معنادارۍ کچه معلوم شي. د یاد ټېسټ پایلې په (٦) جدول کې ښودل شوې دي.

شپږم جدول: نارينه او ښځينه محصلانو پر تحصيلي افت د مؤثرو علواملو د اوسط پرتلنه

| متغيير | جنسيت | شمېر | اوسط | معياري انحراف | t | آزادی درجه Df | معنی داري (Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فردي عوامل | نارينه | 129 | 37.4574 | 5.80276 | 3.822 | 42.784 | 0.000 |
| | ښځينه | 34 | 31.9118 | 7.91764 | | | |
| استاد ارزونې مېتود | نارينه | 129 | 13.2171 | 3.70169 | 1.407 | 161 | 0.161 |
| | ښځينه | 34 | 12.1765 | 4.32379 | | | |
| درسي محتوا | نارينه | 129 | 13.4806 | 2.75029 | 2.711 | 161 | 0.007 |
| | ښځينه | 34 | 12.0000 | 3.13340 | | | |
| کورني عوامل | نارينه | 129 | 28.2248 | 6.90702 | 1.537 | 161 | 0.126 |
| | ښځينه | 34 | 26.1471 | 7.39833 | | | |
| ټولنيز-فرهنگي عوامل | نارينه | 129 | 15.4109 | 3.53689 | 2.253 | 161 | 0.026 |
| | ښځينه | 34 | 13.9118 | 3.09807 | | | |
| سياسي عوامل | نارينه | 129 | 10.6279 | 3.18706 | -5.296 | 69.568 | 0.000 |
| | ښځينه | 34 | 13.2059 | 2.31961 | | | |
| اقتصادي عوامل | نارينه | 129 | 19.8527 | 3.96686 | .900 | 46.007 | 0.373 |
| | ښځينه | 34 | 19.0588 | 4.72223 | | | |
| ښوونځي ضعف | نارينه | 129 | 17.5659 | 3.38620 | -.929 | 161 | 0.354 |
| | ښځينه | 34 | 18.1765 | 3.50299 | | | |
| منابع او امکانات | نارينه | 129 | 12.6047 | 3.41966 | -.248 | 161 | 0.805 |
| | ښځينه | 34 | 12.7647 | 3.06553 | | | |
| تدريس مېتود | نارينه | 129 | 21.8140 | 4.36565 | .272 | 41.542 | 0.787 |
| | ښځينه | 34 | 21.5000 | 6.35920 | | | |
| تحصيلي رشته | نارينه | 129 | 22.4729 | 4.91820 | 3.625 | 161 | 0.000 |
| | ښځينه | 34 | 19.0000 | 5.16398 | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| پوهنځی رهبري | نارینه | 129 | 9.1395 | 2.94943 | -.343 | 43.801 | 0.733 |
| | ښځینه | 34 | 9.3824 | 3.83773 | | | |

د (٦) شمېرې جدول پر بنسټ، ویلای شو چې په فردي عواملو کې د نارینه محصلانو اوسط 37.4094 له 5.77811 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 31.9118 له 7.91764 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 3.788 ازادۍ درجه کې ۰,۰۰۰۱ معنالرونکی په لاس راغلی دی. د استاد ارزونې مېتود کې د نارینه محصلانو اوسط 13.2171 له 3.70169 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 12.1765 له 4.32379 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 1.407 ازادۍ درجه کې ۰,۱۶۱ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی دی. د درسي محتوا په برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 13.5039 له 2.76565 له معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 12.0000 له 3.13340 سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 2.737 ازادۍ درجه کې ۰,۰۰۷ معنالرونکی په لاس راغلی دی. د کورني عواملو په برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 28.1575 له 3.19725 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 3.19725 له 7.39833 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 1.481 ازادۍ درجه کې ۰,۱۴۱ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی دی. د ټولنیزو ـ فرهنګي عواملو برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 15.4800 له 3.54828 معیاري انحرف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 13.9118 له 3.09807 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 2.344 ازادۍ درجه کې ۰,۰۲۰ معنالرونکی په لاس راغلی دی. د سیاسي عواملو برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 10.6172 له 3.19725 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 13.2059 له 2.31961 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 5.305- ازادۍ درجه کې ۰,۰۰۰۱ معنالرونکی په لاس راغلی دی. د اقتصادي عواملو برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 19.8871 له 4.01665 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 19.0588 له 4.72223 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 1.025 ازادۍ درجه کې ۰,۳۰۷ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی دی. د ښوونځي ضعف برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 17.5984 له 3.39762 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 18.1765 له 3.50299 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 875.- ازادۍ درجه کې ۰,۳۸۳ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی دی. د منابعو او امکاناتو برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 12.6400 له 3.46736 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 12.7647 له 3.06553

معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې تي(T) کچې د 190.- ازادۍ درجه کې ۰,۸۴۹ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی دی. د تدری مېتود برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 21.7717 له 4.38647 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 21.5000 له 6.35920 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې تي(T) کچې د ۰,۲۳۵ ازادۍ درجه کې ۰,۸۱۶ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی دی. د تحصیلي رشتې برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 22.5118 له 4.94552 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 19.0000 له 5.16398 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې تي(T) کچې د 3.643 ازادۍ درجه کې ۰,۰۰۰۱ معنالرونکی په لاس راغلی دی. او د پوهنځي رهبري برخه کې د نارینه محصلانو اوسط 9.1210 له 2.96207 معیاري انحراف سره او د ښځینه محصلانو اوسط 9.3824 له 3.83773 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې تي(T) کچې د 368.- ازادۍ درجه کې ۰,۷۱۴ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی دی.

**درېیمه پوښتنه:** د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې اغېزناک لاملونه د تأهل پر بنسټ معنادار او توپیر لرونکي دي

دویمې پوښتنې ته د ځواب مودلو لپاره له خپلواک تي ټېسټ (Independent - Samples T Test) څخه ګټه اخیستل شوې، ترڅو د تأهل له مخې د هغوی اوسطونه او د معنادرۍ کچه معلوم شي.

(۷) شمېره جدول: د متاوت تأهل پر اساس د محصلانو پر تحصیلي افت د مؤثرو علواملو د اوسط پرتلنه

| متغییر | تأهل | شمېر | اوسط | معیاري انحراف | T | آزادی درجه Df | معنی داري (Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فردي عوامل | مجرد | 105 | 35.9905 | 6.74892 | -.798 | 161 | 0.426 |
| | متأهل | 58 | 36.8621 | 6.54391 | | | |
| استاد ارزونې مېتود | مجرد | 105 | 12.2571 | 3.58691 | -3.423 | 161 | 0.001 |
| | متأهل | 58 | 14.3448 | 3.97162 | | | |
| درسي محتوا | مجرد | 105 | 12.9048 | 2.82681 | -1.596 | 161 | 0.112 |
| | متأهل | 58 | 13.6552 | 2.95909 | | | |
| کورني عوامل | مجرد | 105 | 26.8667 | 7.01244 | -2.286 | 161 | 0.024 |
| | متأهل | 58 | 29.4655 | 6.83442 | | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ټولنيز-فرهنګي عوامل | مجرد | 105 | 14.7143 | 3.25137 | -1.902 | 161 | 0.059 |
| | متأهل | 58 | 15.7931 | 3.82860 | | | |
| سياسي عوامل | مجرد | 105 | 11.3143 | 2.99780 | .798 | 161 | 0.426 |
| | متأهل | 58 | 10.8966 | 3.54267 | | | |
| اقتصادي عوامل | مجرد | 105 | 19.7429 | 3.99766 | .231 | 161 | 0.818 |
| | متأهل | 58 | 19.5862 | 4.40109 | | | |
| ښوونځي ضعف | مجرد | 105 | 17.4381 | 3.13762 | -1.216 | 99.428 | 0.227 |
| | متأهل | 58 | 18.1552 | 3.83795 | | | |
| منابع او امکانات | مجرد | 105 | 12.2952 | 3.23718 | -1.775 | 161 | 0.078 |
| | متأهل | 58 | 13.2586 | 3.46187 | | | |
| تدريس مېتود | مجرد | 105 | 20.9143 | 4.61001 | -3.043 | 161 | 0.003 |
| | متأهل | 58 | 23.2586 | 4.88665 | | | |
| تحصيلي رشته | مجرد | 105 | 21.5429 | 4.83980 | -.653 | 102.522 | 0.515 |
| | متأهل | 58 | 22.1207 | 5.70035 | | | |
| پوهنځي رهبري | مجرد | 105 | 8.7048 | 2.95128 | -2.704 | 161 | 0.008 |
| | متأهل | 58 | 10.0690 | 3.31325 | | | |

د (۷) شمېرې جدول پر بنسټ، ويلای شو چې په فردي عواملو کې د مجرد محصلانو اوسط 35.9905 له 6.74892 معياري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 36.8621 له 6.54391 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰٫۴۲۶ معنالرونکی په لاس نه دی راغلی. د استاد ارزونې مېتود کې د مجرد محصلانو اوسط 12.2571 له 3.58691 معياري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 14.3448 له 3.97162 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰٫۰۰۱ معنالرونکی په لاس راغلی دی. د درسي محتوا په برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 12.9048 له 2.82681 له معياري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 13.6552 له 2.95909 سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰٫۱۱۲ معنالرونکی په لاس نه راغلی. د کورني عواملو په برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 26.8667 له 7.01244 معياري انحراف

سره او د متأهل محصلانو اوسط 29.4655 له 6.83442 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰,۰۲۴ معنالرونکی په لاس راغلی. د ټولنيزو ـ فرهنګي عواملو برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 14.7143 له 3.25137 معياري انحرف سره او د متأهل محصلانو اوسط 15.7931 له 3.82860 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰,۰۵۹ معنالرونکی په لاس راغلی دی. د سياسي عواملو برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 11.3143 له 2.99780 معياري انحراف سره او د ښځينه محصلانو اوسط 10.8966 له 3.54267 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰,۴۲۶ معنالرونکی په لاس نه دی راغلی . د اقتصادي عواملو برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 19.7429 له 3.99766 معياري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 19.5862 له 4.40109 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰,۸۱۸ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی. د ښوونځي ضعف برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 17.4381 له 3.13762 معياري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 18.1552 له 3.83795 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 99.428 ازادۍ درجه کې ۰,۲۲۷ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی دی. د منابعو او امکاناتو برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 12.2952 له 3.23718 معياري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 13.2586 له 3.46187 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰,۰۷۸ معنالرونکی نه دی په لاس راغلی دی. د تدرې مېتود برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 20.9143 له 4.61001 معياري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 23.2586 له 4.88665 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰,۰۳ معنالرونکی په لاس راغلی دی. د تحصيلي رشتې برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 21.5429 22.5118 له 4.83980 معياري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 22.1207 له 5.70035 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د 102.522 ازادۍ درجه کې ۰,۵۱۵ معنالرونکی په لاس نه دی راغلی. او د پوهنځي رهبري برخه کې د مجرد محصلانو اوسط 8.7048 له 2.95128 معياري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 10.0690 له 3.31325 معياري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپير د ترلاسه شوې ټي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰,۰۰۸ معنالرونکی په لاس راغلی دی.

(۸) شمېره جدول: د متاوت تأهل پر اساس د محصلانو پر تحصيلي افت د مؤثرو علواملو د اوسط پرتلنه

| متغيير | تأهل | شمېر | اوسط | معياري | T | آزادی درجه Df | معنی داري |
|---|---|---|---|---|---|---|---|

| | | | | انحراف | | | (Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تأهل | مجرد | 105 | 214.6857 | 28.50685 | -2.590 | 161 | 0.010 |
| | متأهل | 58 | 227.4655 | 32.96794 | | | |

د (۸) جدول پر اساس ویلای شو چې په ټوله کې د مجرد محصلانو اوسط 214.6857 له 28.50685 معیاري انحراف سره او د متأهل محصلانو اوسط 227.4655 له 32.96794 معیاري انحراف سره متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د ترلاسه شوې تي(T) کچې د ۱۶۱ ازادۍ درجه کې ۰،۰۱۰ معنالرونکی په لاس راغلی دی. جدول ښیي چې متأهل محصلان تر مجرد محصلانو پر تحصیلي افت ډېر اغېز لري.

**څلورمه پوښتنه: مقایسه عوامل مؤثر بر افت تحصیلي محصلان مؤسسه تحصیلات عالی لوگر با رشته تحصیلي متفاوت.**

(۹) شمېره جدول: د تحصیلي رشتې پراساس د تحصیلي افت پرتلنه

| | ښوونې او روزنې پوهنځی | کرنې پوهنځی | جیولوجي او کانونو پوهنځی |
|---|---|---|---|
| اوسط | ۲۲۱،٦٦٦٧ | ۲۱۴،۹۲۷۳ | ۲۱۹،۹۳۳۳ |
| معیاري انحراف | ۳۲،۹۹۵۸۲۳ | ۲۵،۵۴۴۳۴ | ۳۳،۳۷۳۳٦ |

په پورتني (۹) جدول کې څرگندېږي چې ښوونې او روزنې پوهنځي اوسط **۲۲۱،٦٦٦۷** له **۳۲،۹۹۵۸۲۳** معیاري انحراف سره، د کرنې پوهنځي اوسط ۲۱۴،۹۲۷۳ له ۲۵،۵۴۴۳۴ معیاري انحراف سره او د جیولوجي او کانونو پوهنځي اوسط ۲۱۹،۹۳۳۳ له ۳۳،۳۷۳۳٦ معیاري اوسط سره ترلاسه شوی دی. له جدول ښکاري چې لوگر د لوړو زده کړو مؤسسې د پوهنځیو د محصلانو د تحصیلي افت درجه په ترتیب عبارت ده له: ښوونې او روزنې پوهنځی، کرنې پوهنځي او جیولوجي او کانونو پوهنځی.

**مناقشه**

د دغې څېړنې پایلې ښیي چې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې تر ټولو لوی عامل خپله محصلان او تر ټولو کوچنی عامل د پوهنځیو رهبري ده. په ترتیب، انفرادي عوامل، کورني عوامل، تحصیلي رشته، د تدریس مېتود، اقتصادي عوامل، د ښوونځو ضعف، ټولنیز عوامل، درسي محتوا، د ارزونې مېتود، سرچینې او اسانتیاوې، سیاسي عوامل او د پوهنځي رهبري د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې اغېز لري.

د جنسیت له نظره، د هلکانو د فردي او ټولنیزو عواملو، تحصلي رشتې او درسي محتوا اوسطونه له نجونو څخه ډېر او معنیلرونکي او د نجونو سیاسي عواملو اوسط له هلکانو څخه ډېر او معنیلرونکي ترلاسه شوي. پارسي او همکارانو (۱۳۷۹) په خپلو څېړنو کې دې پایلې ته رسیدلي چې له تحصیلي لوېدنې سره د عمر او جنسیت تر مینځ د پام وړ توپیر شتون لري او همدارنګه د تأهل او تحصیلي رشتې سره د پام وړ اړیکه شتون لري، پداسې حال کې چې د تحصیلي اسانتیاوو د متغییر تر منځ کومه د پام وړ اړیکه نه ده موندل شوې. او همدارنګه د دغې څېړنې پایلي د پارسي او همکارانو د څېړنو له پایلو سره د عمر، جنسیت، تأهل او تحصیلي شتي سره ورته پایلي لري. د دغې څېړنې پایلې ښیې چې په محصلانو کې تحصیلي غورځېدنه د جنسیت لامل له تحصیلي لوېدنې سره تړاو لري. په دغه برخه کې ورته څېړنه د فرزاد ابراهیمزاده او همکارانو لخوا په (۱۳۹۴) کې د لرستان د طبي علومو په پوهنتون کې د تحصیلي لوېدنې پیښې او د هغې پورې اړوند لاملونو څېړلو تر عنوان لاندې څېړنه ترسره کړي، چې پایلي یې له دغې څېړنې له پایلو سره ورته والی ښیې. بندبني او همکاران(۱۳۹۴) یې وایي چې د تحصیلي لوېدنې پورې اړوند انفرادي او ټولنیز لاملونه لکه جنسیت، د تحصیلي رشتې د غوره کولو څرنګوالی، د هغو محصلانو ترمنځ چې تحصیلي لوېدنه لري او هغه محصلان چې تحصیلي لوېدنه نلري پام وړ توپیر ښودل شوی ۰۵/۰۵ ۰ ۰ > p. په دغه حاضره څېړنه کې د محصلانو انفرادي او ټولنیز لاملونه لکه جنسیت، د تحصیلي رشتې د غوره کولو څرنګوالی، د هغو محصلانو ترمنځ چې تحصیلي لوېدنه لري او هغه محصلان چې تحصیلي لوېدنه نلري ورته پایلي تر لاسته کړي دي چې کوم توپیر پکې لاسته نه دي راغلی. دغې اوسنې څېړنې ته ورته محمدي او همکارانو (۱۳۹۹) د سمنان د طبي علومو پوهنتون د روغتیایي رشتې محصلانو د تحصیلي لوېدنې په اړه څېړنه ترسره کړه چې په پایلو کې یې له تحصیلي لوېدنې سره د تأهل وضعیت او همدارنګه د تحصیلي رشتې د غوره کولو له څرنګوالي سره د پام وړ اړیکه ولیدل شوه، دا په داسي حال کې ده چې دغه څېړنه کې هم ورته نتایج تر لاسه شوي، راستیان او همکارانو(۱۳۹۳) له تحصیلي لوېدنې سره د مقابلې لپاره ستراتیژۍ تر عنوان لاندې له څېړنې وروسته پایلي ښیې چې تحصیلي لوېدنه بېلابېل لاملونه لري لکه؛ انفرادي ، کورنۍ ، ټولنیز او ښوونېز لاملونه، چې د دغې اوسنې څېړنې له پایلو سره همغږي او ورته دي. د دغې حاضري څېړنې پایلي ښیې چې د درسي محتوا، جنسیت او تأهل دمحصلانو پر تحصیلي غورځېدنه اغیز لري، دي ته ورته څېړنه چې د فتي او همکارانو لخوا په (۱۳۹۲) کې د طب محصلانو د تحصیلي لوېدنې لاملونو سیستماتیکه بیاکتنه تر عنوان لاندې ترسره کړي ورته او مشابه پایلي یې تر لاسه کړي. همدا راز پردنجاني او همکارانو (۱۳۹۰) د ګلستان د طبي علومو پوهنتون د پارامیډیکل او روغتیا پوهنځیو په لیلیه کې د اوسیدونکو محصلانو د تحصیلي لوېدنې فریکونسۍ او اغیزمن لاملونو تر څېړلو وروسته وایي چې د مور او پلار د زده‌کړو کچه او اقتصادي وضعیت له تحصیلي لوېدنې سره د پام وړ اړیکه شتون لري، چې د دغې اوسنې څېړنې له پایلو سره ورته والی لري.

**پایلیزه**

د دې څېړنې پایلې وښوده چې د تحصیلي لوېدنې ترټولو لوی لامل پخپله د محصلانو انفرادي لاملونه دي او ترټولو ټیټ لامل د پوهنځیو رهبري ده. په ترتیب سره انفرادي لاملونه، کورني لاملونه، تحصیلي رشته، د استادانو د تدریس مېتود، اقتصادي عوامل، کمزوري ښوونځي، ټولنیز عوامل، درسي محتوا، د استاد د ارزونې مېتود، سرچینې او اسانتیاوې، سیاسي عوامل او د پوهنځي رهبري هغه عوامل دي چې د محصلانو په تحصیلي لوېدنې اغیزه درلوده. د جنسیت له پلوه، د انفرادي فکتورونو اوسط، ټولنیز عوامل، د زده کړې رشته او د هلکانو درسي محتوا د نجونو په پرتله ډېر او معنا لرونکي وو او د نجونو سیاسي عواملو اوسط د هلکانو په پرتله ډېر او معنا لرونکی وو. دا پدې معنی ده چې انفرادي، ټولنیز، د تحصیلي رشته، او درسي محتوا فکتورونه د نجونو په پرتله د هلکانو په تحصیلي لوېدنې باندې ډېر اغیز درلود، او سیاسي عوامل د هلکانو په پرتله د انجونو په تحصیلي لوېدنې باندې ډېر اغیز درلود. د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې د تحصیلي لوېدنه په لوړه کچه، د جیولوژي او کانونو په پوهنځي کې په منځنۍ کچه او د کرنې په پوهنځي کې په ټیټه کچه وه.

د پوهنتون رهبري، پوهنځي او څانګي باید داسې پروګرامونه طرحه او پلي کړي چې محصلان، کورنۍ، د پوهنې مسؤولین او استادان په کې مستقیم ګډون ولري او په ګډه د دې سترې ستونزې د له منځه وړلو لپاره عملي ګامونه پورته کړي، ترڅو د محصلانو د تحصیلي لوېدنې کچه راټیټه شي. د مسلکي پراختیا مرکز د ورکشاپونو او عملي برنامو په واسطه د نوي او ګډ تدریسي او ارزونې مېتودونو په برخه کې د استادانو ظرفیت لوړ کړي. همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت او د آزموینو د ملي ادارې په همغږۍ داسې پروګرامونه او تدبیرونه په پام کې ونیول شي، چې محصلان د خپلې وړتیا، لېوالتیا او د کار بازار له لارې د داخلې او یا هم د کانکور ازموینې له لارې د زده کړو څانګو ته ور وپېژندل شي او یا هم د ښوونځي په نهم ټولګي کې رشته بندي شي. د دې ترڅنګ د لوړو زده کړو وزارت د نصاب له ریاست سره په همغږۍ د محصلانو د غوښتنو او وړاندیزونو پر بنسټ د نصاب په منځپانګه کې باید لازم بدلونونه رامنځته شي. د افغانستان دولت باید د خلکو د اقتصادي وضعیت د ښه والي لپاره عملي او ګټور پروګرامونه په لاره واچوي، تر څو د خلکو اقتصادي کچه لوړه شي او کورنۍ د خپلو اولادونو په ښوونه او روزنه کې اغیزمنې شي.

**سرچینې**

افشار، ملوس. (۱۳۹۵). بررسی علل افت تحصیلي و تأثیر سطح سواد والدین بر پیشرفت تحصیلي دانش آموزان. کنفرانس بین المللی پژوهش در مهندسی، علوم و تکنالوژی/ باتومی –گرجستان.

معصومی، مظفر؛ حسین زاده لطفی، فرهاد؛ شاهورانی، احمد و رشیدیان، زهرا. (۱۳۸٦). بررسی علل افت تحصیلي دانش آموزان دوره متوسطه شهر خرم‌آباد در درس ریاضی. مجله ریاضیات کاربری واحد لایجان ، سال چهارم ، شماره ۱۴، صص ۷۵ – ۸۸.

پارسی، بهزاد؛ متولی حقی، فرزاد؛ شفا وردی، مجید، ملک‌زاده؛ معصومه، اسلامی فر؛ و بریمانی، خدیجه. (۱۳۹۷). بررسی میزان افت تحصیلي و عوامل مؤثر بر آن در دانشجویان مقاطع مختلف دانشگاه علوم پزشکی مازندران. نشریه راهبردهای آموزش در علوم پزشکی، دوره ۱۱، شماره ۳. صص ۱۴۳ – ۱۴۸.

تمنائی فر، محمدرضا و محمد آمینی، محسن نیاز. (۱۳۸٦). بررسی مقایسه‌ای عوامل مؤثر بر افت تحصیلي دانشجویان مشروط و ممتاز. دوماهنامه علمی –پژوهشی دانشور رفتار دانشگاه شاهد شهریور، ۸٦ سال چهاردهم، شماره ۲۴، صص .۳۹- ۵۲.

نعیمی، ابراهیم. (۱۳۹٦). بررسی پیش‌بینی افت تحصیلي بر اساس میزان استفاده از شبکه‌های اجتماعی مجازی و احساس ارزش شخصی. پژوهش‌های مشاوره، جلد ۱٦، شماره ٦۲، صص ۱۸۹ – ۲۰٦.

ابراهیم‌زاده، فرزاد؛ ناصریان، مهرزاد قربانی و مردانی، مهناز. (۱۳۹۴). بروز افت تحصیلي و عوامل مرتبط با آن در دانشگاه علوم پزشکی لرستان. فصلنامه علمی ـ پژوهشی دانشگاه علوم پزشکی لرستان، یافته، دوره هفدهم، شماره ۴، صص ۱۴ – ۲۴.

غیبی، شاهصنم؛ محمود لو، رحیم؛ موسومی واعظی، سید جواد؛ یکتا، زهرا؛ علی، رضا پور و کفیلی، مهناز. بررسی میزان افت تحصیلي و برخي عوامل زمینه‌ساز آن در محصلان پزشکي دانشگاه علوم پزشکي ارومیه. مجله مرکز مطالعات و توسعه آموزش پزشکی، دوره هفتم، شماره دوم، صص ۱۴٦-۱۴۱.

حسام، مسلم و ثناگو، اکرم . (۱۳۹۱). بررسی رابطه افت تحصیلي با رضایت تحصیلي و برخی عوامل در دانشجویان دانشکده علوم پزشکی گلستان. مجله توسعه پژوهش در پرستاري و مامایی، دوره نهم، شماره۲، صص ۹۰- ۹٦.

پور بند بنی، محمد اسماعیل؛ نادری شاد، شایان؛ آبکنار، فائزه کبرایی و چابکي، بهاره غلامی. (۱۳۹٦). بررسي افت تحصیلي و برخي عوامل مرتبط با آن از دیدگاه محصلان دانشگاه علوم پزشکي گیلان د شهر گیلان. پژوهش در آموزش علوم پزشکي، سال نهم، شماره ۳، صص ۹۰ – ۹٦.

سید محمد مقیمی، حسین خنی فر، نفیسه زر وندی، احمد جوکار، سید احمد بیان، اکبر فرجی ارمکی. (۱۳۸۹). مطالعه و بررسي رابطه بین عوامل آموزشي و افت تحصیلي در میان دانش آموزان پسر آموزشگاه‌های راهنمایي. دو فصلنامه مدیریت و برنامه‌ریزی در نظام‌های آموزشي، دوره ۳، شماره ۴، صص۱۴۴ – ۱٦۰.

کمالي، فرحناز و رضایی، پروین. (۱۳۹۸). افت تحصیلي در دانشجویان پزشکی به‌عنوان عامل مؤثر در آینده سلامت جامعه را در دانشکده پزشکی بندرعباس. مجله طب پیشگیری، سال هفتم، شماره اول، صص ۷۳ – ۸۰.

محمدی ب، هراد پور؛ کمی گوهر و پر دنجانی، سجاد رحیمی. (۱۳۹۹). بررسی افت تحصیلي دانشجویان رشته بهداشت دانشگاه علوم پزشکی سمنان. مجله راهبردهای توسعه در آموزش پزشکی، دوره هفتم، شماره اول، ۱۳۹۹، صص۸۷-۹۹.

راستیان، محمد لطیف؛ حسن نیا، سمیه؛ مظفری، شهباز و صادقی، فاطمه. (۱۳۹۳). راهکارهای مقابله با افت تحصیلي. فصلنامه مرکز مطالعات و توسعه آموزش دانشگاه علوم پزشکی شهید صدوقی یزد ( ویژه‌نامه پانزدهمین همایش آموزش علوم پزشکی ) دوره نهم، پیاپی ۱۳، صص ۴۷۹ – ۴۸۷.

فتی، لادن؛ آذری، شیدا؛ بادران، حمید و اطلسی، اطلسی. (۱۳۹۳). مرور سیستماتیک بررسی علل افت تحصيلي محصلان پزشکی. گام‌های توسعه در آموزش پزشکی. مجله مرکز مطالعات و توسعه آموزش پزشکي، دوره دهم، شماره ۲، صص ۳۱- ۳۸.

طاهری، عبدالمحمد و فیاضی، مهسا. (۱۳۹۰). بررسی علل افت انگیزش تحصيلي از دیدگاه دانش آموزان دوره پیش‌دانشگاهی با توجه به جنسیت و زمینه‌های خانوادگی آن‌ها.نشریه علمی پژوهشی فناوری آموزش، سال پنجم، جلد۵، شماره ۴، ۲۸۷ – ۲۹۸.

پر دنجانی، سجاد رحیمی؛ حشمتی، هاشم و مقدم، زهرا. (۱۳۹۰). بررسی فراوانی و عوامل مؤثر در افت تحصيلي دانشجویان ساکن خوابگاه دانشکده‌های پیراپزشکی و بهداشت دانشگاه علوم پزشکی گلستان. فصلنامه علمی دانشگاه علوم پزشکی تربت‌حیدریه ،دوره‌ی دوم، شماره ۱، صص ۱٦ – ۲۸.

آشتياني، سعيد چنگيزی، شمسی، محسن و محمدبیگی، ابوالفضل. (۱۳۸۸). فراواني افت تحصيلي و برخي از عوامل مؤثر بر آن از دیدگاه محصلان دانشگاه علوم پزشكي اراك. مجله علمي پژوهشي دانشگاه علوم پزشكي اراك، سال ۱۲، شماره ۴ ، صص ۲۴ – ۳۳.

مقدم، عسکر نعمتی و کمالی فر، زینب. (۱۳۹۱). بررسی شناسایی عوامل مهم افت تحصيلي دانش آموزان پسر شهر آمل در درس شیمی یک. هشتمین سمینار آموزش شیمی ایران، ٦و۷شهریورماه، ۱۳۹۲ ،دانشکده شیمی، دانشگاه سمنان.

سیمائی، حکیمه. (۱۳۹۴). بررسی رابطه سلامت روانی موجود در مدارس با افت تحصيلي دانش آموزان مقطع ابتدایی ارومیه. دومین کنفرانس بین‌المللی پژوهش در علوم و تکنالوژی، ترکیه- استانبول.

قاسمی، زهرا؛ محبی فر، رفعت؛ سمیعی راد، فاطمه؛ نظری شادکام، فاطمه و قهرمانی، علیرضا. (۱۳۳). بررسی میزان افت تحصيلي دانشجویان دانشگاه علوم پزشکی قزوین در سال تحصيلي ۹۲- ۱۳۹۳ و شناسایی مهم‌ترین عوامل فرآیندی موثر بر آن. فصلنامه مرکز مطالعات و توسعه آموزش دانشگاه علوم پزشکی شهید، صدوقی یزد( ویژه‌نامه پانزدهمین همایش علوم پزشکی)، دوره نهم، پیاپی ۱۳، صص ۲۱۷ – ۲۲٦.

جعفری، علی و عندلیبیان، امیر هوشنگ. (۱۳۹۷). نقش بازی‌های رایانه‌ای در افت تحصيلي دانش آموزان متوسطه شهر تهران. نشریه علمی- پژوهشی فناوری آموزش، بهار ۱۳۹۷، جلد ۱۲، شماره ۳، صص ۲۱۱ – ۲۲۰.

شکر کن، حسین؛ پولادی، محمدعلی و حقیقی، جمال. (۱۳۹۷). بررسی عوامل مهم افت تحصيلي در دبیرستان‌های پسرانه شهرستان اهواز. مجله علوم تربیتی و روانشناسی، دانشگاه شهید چمران اهواز، دوره سوم، سال هفتم، شماره‌های ۳و۴، صص ۱۰۳ – ۱۱۴.

Two quarterly
Ainak Academic- Research Journal
Logar Higher Education Institute
Journal license date: June/2023

# Investigating the factors affecting the academic failure of students of Logar Higher Education Institute

**Muhammad Tahir Khpalwak[1] & Najeebullah Najeeb[2]**
[1,2]Department of Psychology and Educational Sciences, Faculty of Education, Logar Higher Education Institute.
Email: tahirkhpalwak@gmail.com

## ABSTRACT

**Purpose:** The research, which was conducted under the title investigating the factors affecting the academic failure of students of Logar Higher Education Institute, is applied in terms of purpose and descriptive in terms of method.
**Method:** Its statistical population is all students at Logar University, whose number is 830. The sample size was selected based on the use of a Sample Size Calculator with a confidence level of 97 and an error of 7. Among 163 students, there are 129 boys and 34 girls. A 68-question academic failure questionnaire was used to collect data. The reliability of the questionnaire was obtained based on Cronbach's alpha method (0.893). The data was analyzed through SPSS-26, using the tests *Repeated Measures Define Factor* and *Independent-Samples T-Test*.
**Findings**: The results of the research show that the highest factor of academic failure is the students themselves and the lowest factor is the faculty leadership. Individual factors, family, the field of study, the teachers’ teaching method, economic factors, weak schools, social factors, curriculum content, teacher evaluation method, resources and facilities, political factors, and faculty leadership are the factors that had an impact on student's academic failure. In terms of gender, individual, social, field of study, and course content had more influence on boys' academic failure than girls, and political factors had more influence on girls' academic failure than boys. The academic drop rate was high in the Faculty of Education, medium in the Faculty of Geology and Mines, and low in the Faculty of Agriculture.

**Keywords**: Academic failure, effective factors of academic achievement, Logar higher education institution and students.

**Cite this article**: Khpalwak, Muhammad Tahir & Najeeb, Najeebullah.(2024). Investigating the factors affecting the academic failure of students of Logar Higher Education Institute, Academic – Research Journal (Two Quarterly). 1(2): 178-198
Logar Higher Education Institute © The Author(s).